سال تأسیس ۱٤٤٤هـ ق
مطابق سال ۱٤۰۱ هـ ش
شماره مسلسل (دوازدهم)
ماه ربیع الاول، ۱٤٤٦ هـ ق
مطابق ماه میزان، ۱٤۰۳ هـ ش

# بخوان و بیندیش

شبوونیزه، روزنیزه او تفریحي مجله

**در این شماره می خوانید:**

- د ماشومانو په روزنه کې د والدینو رول
- قدر والدین‌تان را بدانید
- اعصاب په کومو شیانو کمزوري

Islamic Emirate of AFghanistan
Ministry of Education
Directorate of Publication

بسم الله الرحمن الرحيم

# بخوان و بیندیش

**هیات تحریر:**
- الحاج مولوی شهاب الدین «ثاقب»
- مولوی عزیز احمد «ریان»
- قاری منصور أحمد «حمزه»
- احمد شعیب «حقیقی»
- محمد ابراهیم «ملهم»
- عبدالصبور «غفرانی»
- معراج «زمانی»
- محمد نسیم «عیاذ»

**مدیر مسئول:** سمیع الله «یعقوبی»
**مهتمم:** عبدالواسع «سعادت»

**عکاس:** محمد ادریس «نوری»
محمد اشرف «رسولی»
**دیزاینر:** محمد قسیم «یعقوبی»

**شماره تماس:** ۰۰۹۳۷۲۹۸۱۹۰۳۳

**ایمیل آدرس**
Bekhwanwabeyadish23@gmail.com

**تیراژ:** ۱۵۰۰ جلد

**یادداشت:** مجله بخوان و بیندیش که یک نشریه آموزشی، تفریحی و معلوماتی می باشد مقالات و نوشته های شما را جهت نشر می‌پذیرد.
عزیزانی که می‌خواهند مطالب و نوشته‌های شان در مجله بخوان و بیندیش نشر شود، می‌توانند مطالب خویش را به ایمیل آدرس فوق و یا هم به این شماره واتساپ (۹۳۷۸۵۰۸۰۰۵۶ +) ارسال نما یند .

**نوت:**- مطالب ارسالی نباید خلاف ارزش های اسلامی و عرف های پسندیده جامعه باشد.

# فهرست


نقش تفریح در رشد ذهنی... --------------- ۱
راه های بالا نگهداشتن عزت... ------------- ۲
د ماشومانو په روزنه کې د والدینو رول---------- ۳
چهل نکته تربیتی ...---------------------- ٦
د مسلمان ساینس پوه ابوریحان البیروني ... ---- ۸
فردگرایی از دیدگاه اسلام و سرمایه‌داری -------- ۱۰
په شنه چاپېریال کې اوسېدل د... ------------ ۱۱
اهرام مصر ----------------------------- ۱۲
څنګه کولای شو چې ښه مطالعه وکړو؟--------- ۱٤
د غزني ولایت پېژندنه ------------------- ۱٦
آیا می دانستید؟ ----------------------- ۱۸
د ښه ذهن خاوندان دغه (۷) ځانګړنې لري ----- ۱۹
له مور او پلار سره داسې چلن وکړئ------------ ۲۰
داستان آموزنده ----------------------- ۲۱
د نفس سره یو څو خبرې ------------------ ۲۳
ډېر خوب هم د ګوزڼ لامل کېدای شي --------- ۲٤
نصایح ------------------------------- ۲٥
پندهای ارزنده و خیلی مفید ---------------- ۲٦
د لیمو ګټې ---------------------------- ۲۷
د کعبې شریفې په اړه لنډ معلومات------------ ۲۸
داستان آموزنده از مامون پسر هارون الرشید ----- ۲۹
حقایق جالب --------------------------- ۳۰
دانستنی های شگفت انگیز درباره طوطی-------- ۳۱
جنگل‌های آمازون ----------------------- ۳۳
قدر والدین‌تان را بدانید ------------------- ۳٦
داستان امام حسن بصری و مرد فقیر ----------- ۳۷
اعصاب په کومو شیانو کمزوري کېږي --------- ۳۸
نماز تهجّد چیست؟ --------------------- ٤۰
دوستان و نیازمندان را فراموش نکنیم----------- ٤۱
د یوې غوړې اونۍ د پیل لپاره ... ------------ ٤۲
نکات تربیتی -------------------------- ٤٤
انگور بخورید ------------------------- ٤٦
تولنه او ماشوم ------------------------ ٤۷
د دبی خلیفه برج جالب ارخونه-------------- ٤۸
د غصې اجتماعي او روغتیایي زیانونه -------- ٤۹
داستان آموزنده ----------------------- ٥۱
هنوز دیر نشده-------------------------- ٥۲

# نقش تفریح در رشد ذهنی کودکان و نوجوانان

تفریح و بازی از دیر باز به عنوان یکی از نیازهای اساسی انسان مطرح بوده است و تاثیر آن بر رشد ذهنی به خصوص در کودکان و نوجوانان، بر کسی پوشیده نیست. تحقیقات نشان می دهد که فعالیت های تفریحی نه تنها برای سرگرمی و پر کردن اوقات فراغت مهم هستند؛ بلکه نقش بسیار موثری در تقویت توانایی های شناختی، احساسی و اجتماعی افراد دارند. یکی از مهمترین آثار تفریح بر رشد ذهنی، تقویت قدرت تخیل و خلاقیت است. بازی ها و فعالیت های سرگرم کننده به افراد امکان می دهند تا از مرز های واقعیت عبور کرده و دنیا های جدید و ایده های نو را تجربه کنند؛ به همین دلیل است که در سنین کودکی، بازی های نقش آفرینی، ساخت و ساز های هنرهای دستی توصیه می شوند؛ زیرا باعث افزایش خلاقیت و تفکر سالم می شوند.

علاوه بر این، تفریح به تقویت مهارت های حل مسأله و تصمیم گیری نیز کمک می کند، وقتی که کودکان در یک بازی چالشی رو به رو می شوند، برای حل آن نیاز به استفاده از فکر و برنامه ریزی دارند، این تجربه ها به آن ها می آموزند که چگونه با مشکلات مواجه شده و راه حل های مناسب را پیدا کنند. این مهارت ها، بعد ها در زندگی روزمره به آن ها کمک می کنند تا با چالش های مختلف به شیوه ای منطقی و مؤثر برخورد کنند. از سوی دیگر، فعالیت های گروهی و تفریح های دسته جمعی به بهبود مهارت های اجتماعی و ارتباطی منجر می شود. هنگامی که کودکان و نوجوانان با هم‌بازی های خود تعامل می کنند، یاد می گیرند که چگونه احساسات خود را بیان کنند، به نظرات دیگران گوش دهند و با هم فکری به نتایج مشترک برسند. این تعاملات به آن ها کمک می کند تا همدلی و احترام به دیگران را تجربه کرده و روابط اجتماعی سالم تری را در آینده داشته باشند.

به طور خلاصه تفریح و بازی نه تنها برای تخلیه‌ای انرژی های اضافی و ایجاد شادی در زندگی اهمیت دارند؛ بلکه به عنوان ابزاری کار آمد برای تقویت مهارت های ذهنی و اجتماعی عمل می کنند. بنا بر این لازم است که خانواده ها و استادان مکاتب توجه بیشتری به این نیاز داشته باشند و فضای مناسب برای رشد و شگوفایی ذهنی کودکان و نوجوانان را از طریق فعالیت های تفریحی فراهم کنند.

ناگفته نباید گذاشت که تفریح تنها به بازی ها خلاصه نمی شود؛ بلکه تفریح به هر فعالیتی گفته می شود که خارج از کارها و مسئولیت های روزمره‌ای فرد باشد و برای لذت، آرامش یا استراحت انجام شود، می تواند به عنوان تفریح درنظر گرفته شود. تفریح شامل فعایت های است که فرد را از یکنواختی و فشار های روزمره دور می کند و به او فرصت می دهد تا از وقت آزاد خود به شکل دل خواه بهره مند شود. این فعالیت ها می تواند اشکال مختلف داشته باشد، از خواندن کتاب ، ورزش و بازی های گروهی گرفته تا پیاده روی، مسافرت، انجام هنرهای دستی و کار های خلاقانه. نکته مهم این است که تفریح به فرد کمک می کند انرژی های ذهنی و جسمی خود را بازسازی کرده و احساس رضایت و شادابی بیشتر داشته باشد. با درک اهمیت تفریح و نقش آن در رشد ذهنی کودکان و نوجوانان، مجله بخوان و بیندیش که از سوی وزارت معارف نشر می شود و یک مجله آموزشی، تربیتی و تفریحی است در هر شماره ای خود در کنار سایر مطالب، مطالب تفریحی را نیز به نشر می رساند که در پهلوی سرگرمی، نقش بسیار ارزنده در رشد ذهنی کودکان و نوجوانان دارد، ما در تلاش هستیم تا با نشر مطالب آموزشی، تربیتی و تفریحی به اولاد این سرزمین خدمت کنیم و این مطالب جرقه ای باشد برای رشد ذهنی شما عزیزان و خوبان.

# تنبیه نفس

امیر المؤمنین «حضرت عمر بن الخطاب» رضی‌الله تعالی عنه بالای منبر رفت و مردم را ندا داد:
پس مردم جمع شدند فرمود:
{ای مردم! من در دوران کودکی، برای اهل مکه و خاله‌هایم از بنی‌مخزوم چوپانی می‌کردم، گوسفندان‌شان را پرورش می‌دادم، به چراگاه می‌بردم، می‌دوشیدم و به عنوان دستمزد به من مشتی خرما می‌دادند و آن را در دستانم می‌گذاشتند.
این را گفتم که اگر نمی‌دانید، بدانید که من چنین می‌کردم}.
سپس از منبر پایین آمد، عبدالرحمن بن عوف رضی‌الله تعالی عنه به او فرمود:
{ای امیر مؤمنان، به الله جل جلاله سوگند تنها تو را می‌بینم که به نفس خود اهانت می‌کنی}.

فرمود: {همین را خواستم! نفسم به من گفت که من امیر مؤمنان هستم. می‌خواستم او را تنبیه کنم که حد و حدود خود را بداند}.

پارسا دارابی

## راه های بالا نگهداشتن عزت نفس در کودک

- شب هر کاری دارید کنار بگذارید و برای طفل تان قصه بگویید.
- اشتباهات شان را ببخشید.
- خوبی هایش را بزرگ کنید.
- به حرفایش خوب گوش بدهید.
- بی دلیل بغلش کنید و ببوسید.
- مقایسه اش نکنید.
- "اگر اینکار را بکنی/ نکنی وای بحالت" را نگویید (تهدید نکنید).
- برایش نگویید "تو دیگر بزرگ شده‌ای خود را خورد خورد نساز."
- با فرزندتان بازی کنید.
- زمانی که می‌گوید "نمی‌توانم" بگویید: میدانم از عهده‌ی انجام آن بر می آیی.

لیکوال: ډاکټر ابراهیم شینواری

# د ماشومانو په روزنه کې د والدینو رول

د ماشوم د زده کړې لومړنی اداره کور دی. ماشوم له خپلو والدینو سره تر ټولو زیات وخت تیروي او له دوی او هغه چاپیریال څخه تر ټولو زیات شیان زده کوي چې والدینو ورته تیار کړی وي. والدین د خپل ماشوم په پوهنه کې حیاتي رول لري. که ماشوم په هر عمر کې وي. که والدین خپلو ماشومانو ته پام وکړي، دوی د هغو ماشومانو په نسبت له زده کړو ډیرې اغیزمنې پایلې ته رسیږي، چې پام ورته نه ده شوې. که مېندې پلرونه لاندې ټکو ته پام وکړي، دوی د خپلو ماشومانو پوهنه ښه کولی شي.

**۱- خپلو ماشومانو ته زیات وخت ورکړئ:**

په خپل مصروف ژوند کې ماشومانو ته وخت بېل کړئ. که تاسو دوی هیر او له نظره وغورځوئ، په دوی کې به بې مسئولیتي وده وکړي او له زده کړې سره به یې مینه کمه شي.

څومره زیات چې کیدای شي له خپلو ماشومانو سره وخت تیر کړئ او د دوی د ورځنی زده کړې په باب ورسره بحث وکړئ. هره ورځ ترې وپوښتئ چې نن یې په ښوونځي کې څه لوستلي دي. که ممکنه وي له دوی سره په زده کړه کې مرسته وکړئ. له دوی سره پدې باب خبرې وکړئ چې دوی څنګه بهتره کیدای شي. دوی په ژوند کې د لوست له ارزښت څخه خبر کړئ. پدې لاره ماشومان له زده کړو سره مینه پیدا کوي او په آزموینو کې ښې نمرې اخلي.

که تاسو خپلو ماشومانو ته وخت نه ورکوئ نو دا توقع ترې مه لرئ چې دوی به په تعلیمي ژوند کې ښه وځلیږي.

**۲- دوی ته په کور کې یو مرستندویه چاپیریال جوړ کړئ:**

د کور چاپیریال د ماشوم پر ژوند زیاته اغیزه کوي. یو له مینې ډک چاپیریال ایجاد کړئ، د کورنی د ټولو غړو تر منځ ښې اړیکې ولرئ، ځکه ستاسو د ماشوم پر ذهن ډیره ښه اغیزه لري او پدې توګه دوی بیا ښه زده کړه کولی شي. که د کور چاپیریال ماشوم تر فشار لاندې راولي، دوی به پر خپلو لوستونو تمرکز ونه شي کړای.

په کور کې مرستندویه او تعلیمي چاپیریال جوړ کړئ. داسې کارونه مه کوئ چې د درس ویلو

پر مهال ستاسو د ماشوم پام را واړوي، لکه د تلویزیون لګول. دوی ته د لوست یو آرام ځای برابر کړئ چې په پوره تمرکز زده کړه او لوست وکړای شي. ځینې چارټونه او جدولونه پر دیوال یا یوه تخته راوځړوئ.

### ۳-خپل ماشومان وهڅوئ:

که ماشومانو مو په آزموینو کې ښې نمرې واخیستې، ویې ستایئ. که کمې نمرې یې واخیستې، ښه والي او زیارکښۍ ته یې وهڅوئ. په آزموینه کې د بري په خاطر ستاینه دوی نور هم هڅوي چې لا زیات زیار وباسي او نور هم ښه شي. د کمو نمرو په صورت کې یې وهڅوئ چې زیات زیار وباسي او بیرته را اوچت شي او له نوي تصمیم سره پیل وکړي.

### ۴- د ښوونځي له ښوونکو سره په اړیکو کې اوسئ:

د خپلو ماشومانو د ښوونځي ښوونکي په اونۍ کې یو ځل وګورئ او د مربوطه ښوونکي څخه د خپل ماشوم د زده کړې په باب پوښتنه وکړئ. دا کار به تاسو ته ستاسو د ماشوم د زده کړې په باب مفکوره درکړي. تاسو به د خپل ماشوم په کمزوریو پوه شئ او وروسته به یې هماغه ډول اصلاح کړئ. که له ښوونکو یې پوښتنه وکړئ، ماشومان به مو د زړه له کومې زده کړه وکړي.

### ۵- له خپلو ماشومانو سره د دوی د ستونزو په باب وغږیږئ:

ماشومان مو کېدای شي ځینې ستونزې ولري چې د دوی زده کړه ټکنۍ کوي. له خپلو ماشومانو وپوښتئ چې که دوی دغسې ستونزې لري درته ویې وایي، تاسو یې حل کړئ. کله چې یې د ستونزو په باب له دوی سره خبرې کوئ، نو دوی به په آزاد ډول بحث کولی شي.

### ۶- د خپلو ماشومانو په کړنو نظر ساتئ:

د ماشومانو ورځني کارونه مو وڅارئ او یقیني یې کړئ چې دوی خپل وخت او انرژي په ناسمو شیانو او کارونو ونه لګوي. دوی باید خپل زیات وخت په ګیم او فلمونو ونه لګوي. هېڅکله په خپل ماشوم بدګمانۍ مه کوئ، خو کړنې یې په داسې ډول څارئ چې دوی فکر ونکړي چې تاسو پرې شک کوئ.

### ۷- د خپلو ماشومانو د لوست عادت اصلاح کړئ:

خپلو ماشومانو ته لارښوونه وکړئ چې څرنګه خپل د لوست عادت اصلاح کړي. داسې یې وروزئ چې په وخت ویده شي او سهار وختي له خوبه پاڅیږي. که لوست ته نه کیني، ویې روزئ چې دا کار وکړي، پدې ډول به د لوست او زده کړې سره عادت شي. د ښې زده کړې او لوستلو او آزموینې ته د تیارۍ لارښوونې ورته وکړئ. له بې ګټې کارونو یې راوګرځوئ.

### ۸- د لارښوونې پر مهال باید ستاسو سلوک مناسب وي:

تاسو باید له خپلو ماشومانو سره د خپلې مینې او جدیت تر منځ توازن وساتئ. کله چې ماشومانو ته د لوست او زده کړې لپاره لارښوونه کوئ، نو مینه ورسره کوئ. خو کله چې یې له ځینو ناسمو او مضرو کارونو او خبرو راګرځوئ آمرانه برخورد کوئ. هېڅکله یې مه وهئ خو په کلکه یې له غیر ضروري او مضرو کارونو او ناسم چلند څخه راوګرځوئ. پدې ډول به دوی ستاسو برخورد جدي ونیسي او لارښوونې به مو ومني.

### ۹- د ماشومانو تر منځ د کینې د پیدا کیدو مخنیوی وکړئ:

ماشومان هله په خپلو منځونو کې کینه کوي

چې فکر وکړي والدین یې یوه ته په مینه او توجه کې ترجیح ورکوي. د دې کار لپاره لاندې اووه تدابیر مهم دي چې هر مور او پلار یې باید په پام کې ونیسي:

۱- ماشومان یو له بل سره مه پرتله کوئ. په ځانګړي ډول یوه ته بد او بل ته ښه نسبت مه کوئ. دا ډول کړنې د دوی ورتیاوې له منځه وړي: (ولې د خپل ورور په شان لایق او منظم نه یې)

۲- هر ماشوم ته په آزاد ډول غوږ شئ. د ماشومانو خبرو ته په دقت غوږ نیول، له دوی سره ستاسو مینه او درناوی ورښایي.

۳- د ماشومانو د ښوونځي کارونه هم مه مقایسه کوئ.

دوی پرېږدئ چې خپل کارونه سره پرتله کړي او یو له بله څه زده کړي یا سره مرسته وکړي. که د دوی اړتیا وي، تاسو ورته یوازې د خپلې مرستې وړاندیز وکړئ.

۱- په ماشومانو منفي لېبلونه (ټاپې) مه لګوئ. دا بیا د کور په دننه او بهر تولنه کې پر ماشوم دایمي کېږي. دا ډول جملې او ټاپې د ماشوم شخصیت زیانمنوي: (دا زموږ د کور لیونی دی.)

۲- د هر ماشوم ځانګړې استعداد ورروزئ. هر ماشوم کېدای شي په بیله برخه کې استعداد ولري، تاسو یې لومړی دغه استعداد وپېژنئ او بیا یې ورروزئ. هر ماشوم حق لري چې ځانګړې استعداد یې ورروزل شي.

۳- هر ماشوم ته ځانګړی او جلا وخت ورکړئ. لدې یوازې وخت څخه ګټه واخلئ تر څو د دغه ځانګړي ماشوم ستونزې وپېژنئ او پر خپلو ورتیاوو یې باوري کړئ.

۴- په ماشومانو کې د همکارۍ سلوک وهڅوئ.

داسې زمینې جوړې کړئ چې یو ماشوم بل حمایه کړي، پخپلو منځونو کې همغږي وکړي، لوبې وکړي او یو بل سره په هغو برخو کې مرسته وکړي چې کولی یې شي.

**یاد داښت:** کېدای شي د دې لیکنې ځینې سپارښتنې د افغانستان په شرایطو کې یو څه سختې وي، لکه هره اونۍ د ښوونکو کتل او په کور کې ماشومانو ته د زده کړې او لوست ډېر آرام ځای برابرول. خو تر وسه وسه باید والدین د خپل حالت او امکاناتو سره هڅه وکړي.

## چهل نکته تربیتی

# به خاطر تربیت بهتر فرزندان

۱- ایمان را در کودک تان تقویت کنید.
۲- در کودکان عشق و علاقه به نماز را ایجاد کنید.
۳- با سلام کردن به فرزندتان به او ادب را یاد دهید.
٤- به فرزندان خود شخصیت بدهید.
٥- فرزندان خود را ببوسید. پس همانا برای هر بوسیدن درجه ای در بهشت است.
٦- کودک را در کارهای کودکانه اش تمسخر نکنید. کارهایش را احمقانه نخوانید.
۷- فرزندان تان را از کارهای منکرات منع و به نیکی امر کنید تا یک فرزند صالح و نیک در جامعه به بار آید.
۸- اطفال را به خاطر گریه های شان نزنید زیرا آنها بی جرئت می شوند.
۹- به وعده خود وفا کنید.
۱۰- با کودک خود بازی کودکانه بکنید.
۱۱- ناز دادن بیش از حد و متوجه نساختن به اصول دین، کودکان را موجوداتی ضعیف و بی اراده بار می آورد.
۱۲- کودک را تحقیر نکنید.
۱۳- برای کودکان خود دعا کنید. به خصوص پدران.
١٤- تذکرات را با ملایمات بیان کنید تا سدی بین والدین و فرزندان نشود.
١٥- اگر کودک در خانه مورد احترام باشد، کمتر از اوامر پدر و مادر سرپیچی می‌کند؛ زیرا احترام به کودک و حسن معاشرت پدر و مادر با وی یکی از اساسی ترین عوامل ایجاد شخصیت در کودک است.
١٦- مربی خوب کسی است که خواسته های کودک را از راه های صحیح و با روش درست

برآورده سازد.
۱۷- هدیه را مساویانه میان کودکان تان تقسیم نما یید .
۱۸- از رفتار های آمرانه با کودکان بپرهیزید.
۱۹- فرزند را راستگو تربیت کنید، در خانه طوری رفتار کنید که اطفال به راستگویی عادت کنند.
۲۰- کودک را نترسانید زیرا ترس شخصیت کودک را از بین می برد و دچار اختلال روانی می کند.
۲۱- نوازش یکی از غذاهای روانی کودک است باید به اندازه کافی از آن تغذیه شود.
۲۲- زشتی گناه و تنفر مردم از گناهکار را به کودک بفهمانید.
۲۳- بستر خواب بچه ها قبل از ٦ سالگی از هم جدا باشد.
۲٤- تذکرات وقتی اثر دارند که والدین خود مجری و عامل آنها باشند. توجه داشته باشید فرزندان آن گونه که ما می خواهیم نمی شوند؛ بلکه آن طوری که ما هستیم می شوند.
۲۵- بین نظم در خانه و بیرون فرق قائل شوید و اجازه دهید در خانه آزادانه بازی کنند.

۲٦- رفتارهای غیر منتظرانه کودکان را تا حدودی تحمل کنید.
۲۷- در تذکر، دیگران را به رخ او نکشید و کسی را با او مقایسه نکنید.
۲۸- از طریق داستان سرایی بسیاری از مفاهیم خوب را به کودک القا کنید. داستان خوب و زیبا برایش بخوانید و از رسانه و انیمیشن دور نگهشان دارید.
۲۹- شوخی کودک در خورد سالی نشان دهنده زیادی عقل او در بزرگ سالی است آن را سرکوب نکنید.
۳۰- کودکان را از ۷ سالگی دعوت به نماز کنید که نماز آرامش روح و قلب را در کودکان ابدی می کند.
۳۱- به فرزند خود قرآنکریم بیاموزید که نگاه به قرآنکریم و خواندن آن فهم و ذهن کودک را روز افزون می کند.
۳۲- از متهم کردن اطفال به دروغ گویی خود داری کنید.
۳۳- حس کنجکاوی کودک را با حوصله مندی مرفوع کنید.
۳٤- در برابر فرزندان هیچ گاه مشاجره نکنید.
۳۵- کودکان از مرگ در هراسند به خصوص مرگ والدین. مدام نگویید «خدا مرگم بدهد» و از مرگ خود کودکان را نترسانید.
۳٦- استعدادهای فرزندان را کشف کنید و آن ها را شکوفا کنید.
۳۷- کودکان تان را محض مادیات دوست تربیه نکنید، مادیات دوستی بیش از حد، کودکان را در آینده از معنویات دور می سازد.
۳۸- تنها نقطه امید و مایه شادی کودک، مهر پدر و مادر است روان او را مضطرب نسازید.
۳۹- مناسب تکامل کودک به او آزادی دهید و او را به اختیار خودش بگذارید.
٤۰- تربیت فرزند و آموزش مسایل اسلامی برای آن ها از وظایف والدین است.

# د مسلمان ساینس پوه ابوریحان البیروني پېژندنه او لاسته راوړنې

د اسلامي نړۍ د دې نامتو عالم اصلي نوم محمد دی، په (۳۶۲) هـ ق کال د خوارزم (خوارزم دیوې پخوانۍ لرغونې سیمې نوم دی چې په اوسني ازبکستان او ترکمنستان کې پرته وه) په یوه کلي (بېرون) کې زېږېدلی دی، او د پلار نوم یې احمد دی.
څرنګه چې خوارزم په هغه وخت کې د علم او پوهې مرکز وو؛ نو د نړدې او لېرې سیمو څخه به خلك د علم د زده کړې لپاره دغه ښار ته راتلل، البیروني هم خپله لومړنۍ زده کړه د خوارزم د واکمن د تره د زوی منصور بن علي څخه وکړه ، منصور بن علي د ریاض یو لوی عالم وو، دواړو (استاذ او شاګرد) د ساینس په اړه (۱۲) کتابونه لیکلي.
د سیاسي ستونزو د را پیدا کېدو له کبله ابوریحان البیروني دې ته اړ شو چې خوارزم پرېږدي او ری ته ولاړ شي، ری هغه مهال د طبرستان د واکمن تر ولکې لاندې سیمه وه ، کله چې د خوارزم حالات بېرته مخ په ښه کېدو شول، د وخت واکمن (علي بن مامون) البیروني ته لیك ولېږه چې بېرته خوارزم ته راشي ، علي بن مامون ، البیروني ته په خپل دربار کې ډېر عزت ورکړ، په داسې حال کې چې ابوعلي سینا هم له وړاندې نه په دې دربار کې شتون درلود.
کله چې سلطان محمود غزنوي خوارزم ښار ونیوه، ابوریحان البیروني د سلطان محمود غزنوي دربار ته راغی، سلطان محمود غزنوي البیروني ته د څېړنو لپاره یو مرکز جوړ کړ. البیروني څو ځلې د سلطان محمود غزنوي سره هندوستان ته هم تللی دی ، او کوم وخت چې سلطان محمود غزنوي پر سومنات برید کاوه، البیروني هم ورسره وو، د هندوستان ډېر عالمان له البیروني څخه اغېزمن شوي وو، نو له دې کبله هغوی ورته د (دویا ساګر) یعنې د پوهې د سمندر لقب ورکړی وو.
البیروني په اصل کې د طبیعي علومو ، نجوم او ریاضي عالم وو خو په طب، منطق، تاریخ، آثارپېژندنې، دارو پېژندنې او معدن پېژندنې کې یې هم ډېر معلومات درلودل .
البیروني سربېره په خوارزمي او فارسي په عربي، عبراني، سریاني، سانسکریتي او ترکي ژبو هم پوهېده. البیروني ډېرې لیکنې کړې دي، چې د نړۍ مشهورو ژبو ته هم ژباړل شوي دي، یعنې نوموړی نړیوال شهرت لري، د البیروني د کتابونو او لیکنو شمېر تقریباً (۱۹۵) ته رسېږي.

**د البیروني مشهور کتابونه**

(۱) کتاب الهند او آثار الباقیه: دا دواړه د البیروني ډېر مشهور کتابونه دي، کله چې د (کتاب الهند) یا (آثار الباقیه) نوم اخیستل کېږي، نو د هر عالم په زړه کې د البیروني نوم رایادېږي.

(۲) **قانون مسعودي:** دا کتاب د سلطان محمود غزنوي زوی سلطان مسعود ته منسوب شوی دی، په دې کتاب کې البیروني زیاتره لیکنې د ستورو د پېژندنې په اړه لیکلې دي، دغه کتاب د (۴۰۰) څخه تر (۴۰۷) هـ ق کال پورې د جرجانیې د ښېرنو په مرکز کې لیکل شوی دی، د دې کتاب په لیکلو سلطان مسعود ډېر خوشحاله شو او البیروني ته یې دومره سره زر ډالۍ کړل چې یوه زورور فیل هم پورته کولای نه شول، خو البیروني دا ټول بېرته شاهي خزانې (بیت المال) ته وسپارل.

(۳) **تحدیدالاماکن:** دا کتاب هم د ستورو د پوهې په اړه لیکل شوی دی، د دې کتاب د لوستلو څخه معلومېږي چې البیروني د ځینو اړتیاوو له کبله په دنیاوي چارو کې برخه اخیستې ده، دنیاوي چارو د هغه پر ساینسي ښېرنو لوی اغېز غورځولی وو، په دې کتاب کې ده په خپله لیکلي دي: (ما د خلیفه مامون په وینا د ځمکې د نصف النهار د معلومولو لپاره ما دیوې آلې د جوړولو لپاره د جرجان او اغوز (د ترکانو د سیمې) تر منځ یو ځای ډېر ښه وګاڼه، خو زما مسئول سلطان قابوس

دې تجربې ته زړه ښه نه کړ، د ډېرې ناهیلۍ او خفګان سره سره بیا هم زه د خپل کتاب په لیکلو اخته شوم او بالاخره مې پوره کړ.

(۴) **کتاب الجواهر:** دا د البیروني یو بل مشهور کتاب دی ، دا کتاب په دوو ټوکونو کې لیکل شوی دی، لومړی ټوک یې د قیمتي ډبرو او دوهم ټوک یې د سیمو او د هغو د ځانګړتیاوو په اړه لیکلی دی، له دې پرته چې نوموړي د یوناني، روسي او هندي ژبو څخه کوم معلومات تر لاسه کړي، هغه یې هم په دې کتاب کې لیکلي دي.

(۵) **القمر:** دا کتاب نوموړي د لویو ستورو په اړه لیکلی دی.

هغه کارونه چې په لومړي ځل البیروني کړي دي :

د البیروني هغه کارونه چې په نړۍ کې تر اوسه پورې تاریخي ارزښت لري دا دي :

(۱) البیروني دا په ثبوت رسولې چې ځمکه په خپل محور ګرځي راګرځي.

(۲) په لومړي ځل د ځمکې عرض البلد او طول البلد البیروني پیدا کړی دی .

(۳) په لومړي ځل د ځمکې څخه د سمندر د ژور والی البیروني پیدا کړی دی.

(۴) په لومړي ځل نوموړي د ډبرو بوټو ځانګړتیاوې پیدا

کړې او په بیلابیلو ژبو یې لیکلي هم وو.

(۵) په لومړي ځل البیروني د معدنیاتو په اړه بشپړ کتاب لیکلی دی.

(٦) په لومړي ځل نوموړي دا نظریه ورکړې وه چې د چینو اوبه له ځمکې څخه د برقي کیمیاوي عمل د زوره راوځي.

(۷) په لومړي ځل نوموړي دا نظریه ورکړې وه چې د نړۍ ډېر رېګستانونه پخوا د سمندرونو غاړې وې، چې د وخت په تېرېدو سره اوس په وچو بدلې شوې دي، لکه دپاکستان د سند ایالت.

لنډه دا چې البیروني د ډېر کوچنیوالي څخه د علم سره شوق درلود، هغه د خپل عمر په (۱۷) کلنۍ کې د ځمکې د نصف النهار د معلومولو لپاره یوه ساده آله جوړه کړې وه.

یاده دې وي چې نوموړي په خپله مورنۍ ژبه (خوارزمي) هیڅ لیکنه نه ده کړې. او د ژوند په داسې حال کې چې د (۷۸) کلونو عمر ته رسېدلی وو، په (۴۴۰) هـ ق کال د دې نېمګړې نړۍ څخه د تل لپاره د غزني په ولایت کې سترګې پټې کړې، او بیا په همدې ولایت کې خاورو ته وسپارل شو.

# فردگرایی از دیدگاه اسلام و سرمایه‌داری

**اسلام**: در کنار سایر ویژگی ها، یکی از بارزترین ویژگی‌های اسلام به عنوان یک مبدأ، مبارزه با فردگرایی و خودخواهی است؛ در حالی که اسلام بر فرد لازم می‌سازد تا به امور خاص، اصلاح نفس و کنترول رفتار خود اقدام نماید؛ در عین حال او را به مراقبت از دیگران سوق می‌دهد و او را مؤظف می‌سازد که به منافع اطرافیان خود در جامعه رسیدگی کند.

این اهتمام تا زمانی که همه مردم در توصیف اسلام به عنوان پیامی جهانی که هدف آن رساندن انسان به سلامتی و نجات آن از چنگال جهل و گمراهی است، شامل می گردد.

**سرمایه‌داری**: فردگرایی مهم ترین عنصر در نظام سرمایه‌داری است و به تعبیری در قلب بازار آزاد و ایدئولوژی سرمایه‌داری جای دارد.

از همین‌رو، نظام سرمایه‌داری از همان ابتدای تولدش، یک نظام فردگرا بوده که فرد را محور اصلی و هسته اجتماع می‌داند و تأمین منافع فرد را مقدم می‌شمارد.

از بُعد اقتصادی، در نظام سرمایه‌داری، خواسته‌ها و انگیزه‌های افراد قوه متحرک رشد اقتصادی شمرده می‌شود.

همچنان، افراد براساس آزادی فردی که در این نظام برای شان فراهم شده در تلاش تأمین منافع خود می‌باشند.

حتی فلسفهٔ موجودیت دولت، محافظت از سرمایهٔ افراد سرمایه‌دار بوده که با تصویب و اجرای قوانین مختلف، از ثروت افراد محافظت می‌نماید.

# په شنه چاپېريال کې اوسېدل
# د زړه روغتيا تضمينوي

هغوی چې په شنه چاپېريال کې اوسېږي د يوې نوې څېړنې له مخې د لږ رواني فشار سره مخامخ دي، په رګونو کې يې د وينې جريان سم او د زړه په حملو باندې د اخته کېدو چانس يې کم وي. ځينو پوهانو پدغه څېړنه کې په قلبي ناروغيو او رواني فشارونو باندې د اخته کېدو د کچې معلومولو لپاره د ۴۰۸ تنو د وينې او ادرارو د آزموينو سربېره د سپوږمکۍ له لارې د هغوی د اوسېدنې د چاپېريال تصويرونه هم راټول کړي وو. هغه کسان چې په شنه چاپېريال کې اوسېدل د هغو په پرتله چې په لږو شنو ساحو کې يې ژوند کاوه په وينې او ادرارو کې يې د رواني فشار د رامنځ کېدو اړوند هورمونونه کم و. همداشان د شنه چاپېريال د اوسېدونکو د وينې د جريان رګونه د لږو شنو ساحو د اوسېدونکو په پرتله سالم وو. د امريکا د کنتاکي ايالت د لېوويل په پوهنتون کې د دغې څېړنې مشر څېړونکي ارونې بتناګر، د رويترز آژانس ته ويلي، ددغه څېړنې موندنې ښيي چې د چاپېريال سره تل تماس او ګاونډتيا ښايي په قلبي ناروغيو باندې د لږ اخته کېدو يوه لار وي. د دغه څېړنې ډېر ګډون کوونکي چې وسطي عمر يې ۵۱ کاله و، د بدن وزن يې زيات، د وينې فشار او کولسترول يې لوړ وو او ډېرو يې په داسې ځايونو کې ژوند کاوه چې شين چاپېريال يې کم و. د محيطي روغتيا څېړونکي انيماري هيرش، پدې باور ده چې شين چاپېريال له يوې خوا خلک فزيکي فعاليت ته هڅوي او بلخوا د ککړتيا په مخنيوي سره د هوا کيفيت هم ښه کوي.

انيماري هيرش همدا شان استدلال کوي چې شين چاپېريال خلک خوشحاله کوي او د هغوی د منفي احساساتو مخنيوی کوي او په دغو ساحو کې د ترافيکي ګڼې ګوڼې او شورماشور نشتوالی د رواني فشار او استرس د کمېدو سبب کېږي. خو پوهان وايي چې يواځې په شين چاپېريال کې ژوند د انسان د رواني او قلبي روغتيا ضمانت نه کوي بلکه نور عوامل لکه عمر، جنس، نژاد، وزن، د دخانياتو او الکولو استعمال، غذايي رژيم، اقتصادي او ټولنيز وضعيت او داسې نور نه يواځې د زړه په روغتيا بلکه د بدن په عمومي روغتيا باندې عمده اثر لري.

# اهرام مصر

اهرام مصر یکی از برجسته‌ترین نشانه‌های تمدن باستانی مصر به شمار می‌روند. این نمایانگر هنر و مهارت بی‌نظیر معماران مصر باستان هستند.

**تاریخچه و هدف اهرام**

اهرام مصر در دوره پادشاهی قدیم، به‌ویژه در سلسله‌های چهارم تا ششم، در حدود ۲۲۰۰ الی ۲۵۰۰ سال قبل از میلاد، ساخته شده اند. این اهرام به‌عنوان مقبره‌هایی برای فرعون‌ها و دیگر مقامات برجسته طراحی شده بودند. اعتقاد بر این بود که فرعون‌ها پس از مرگ به خدایان تبدیل می‌شوند (نعوذبالله من ذلک)و اهرام به‌عنوان منزلگاه ابدی و وسیله‌ای برای انتقال آنها به زندگی بعدی ساخته می‌شدند.

**ساختار و معماری**

اهرام بزرگ مصر، شامل هرم‌های جیزه، هرم منکائور، هرم خفرع و هرم خوفو، نمونه‌های برجسته از معماری هرم‌های مصری هستند. هرم خوفو، بزرگترین و مشهورترین هرم، حدود ۱۴۶ متر ارتفاع دارد و در زمان ساختن‌اش بلندترین ساختمان جهان بود. این هرم ازحدود ۲.۳ میلیون بلوک سنگی، هرکدام با وزن متوسط ۲.۵ تن، ساخته شده است. هرم‌ها به طور عمده از سنگ‌های آهکی و گرانیتی ساخته شده‌اند. ساخت این سازه‌ها

نیازمند مهارت‌های فنی بالایی بود؛ به‌ویژه در جابجایی و قرار دادن سنگ‌ها در ارتفاعات بالا برای ساخت این هرم‌ها از رمپ‌های شیب‌دار، قرقره‌ها و دیگر ابزارهای مهندسی استفاده می‌شد.

**زیبایی‌شناسی و تأثیر فرهنگی**

اهرام تنها مقبره‌های ساده‌ای نیستند؛ بلکه نمادهای پیچیده‌ای از باورهای دینی و فرهنگی مصر باستان نیز هستند. هر هرم دارای نقوش و نوشته‌هایی است. به باور مصریان این نقوش و نوشته‌ها، به‌ویژه در درون هرم‌ها، به فرعون و دیگر مقامات کمک می‌کردند تا در زندگی پس از مرگشان مورد حمایت و تقدیر قرار گیرند.

اهرام همچنین به‌عنوان نشانه‌ای از قدرت و ثروت فرعون‌ها در نظر گرفته می‌شدند و طراحی آنها به‌گونه‌ای بود که توانایی‌های مهندسی و هنری مصریان باستان را به نمایش بگذارد. این سازه‌ها، تأثیر زیادی بر معماری و هنر در دوره‌های بعدی داشته و الگوی برای بسیاری از معماران و هنرمندان در طول تاریخ بوده‌اند.

اهرام مصر نه تنها شاهکارهای معماری باستانی هستند، بلکه نشانه‌هایی از اعتقادات، هنر و توانمندی‌های تکنالوژی مردم مصر باستان محسوب می‌شوند. این سازه‌ها، که از دوران باستان به یادگار مانده‌اند، هم چنان شگفتی‌های بی‌پایان و رازهای فراوانی را در دل خود پنهان دارند و به‌عنوان یکی از بزرگ‌ترین دستاوردهای بشری در تاریخ شناخته می‌شوند.

**شگفتی‌های اهرام مصر**

۱- یک از حقایق درباره اهرام مصر این است که همه اهرام به یک اندازه و به شکل ثابت معماری نشده‌اند. بلکه اکتشافات باستان‌شناسی نشان می‌دهد که نسخه‌های ابتدایی ظاهری مکعبی شکل داشته‌اند و به مرور معماران و دست‌اندرکاران به شمایل امروزی متمایل شده‌اند.

۲- یکی از دانستنی های اهرام مصر این است که بیشتر اهرام در کرانه غربی نیل بنا شده‌اند. دلیل این امر به باور باستانیان، نزدیک کردن هرچه بیشتر روح و جسم پادشاه به آفتاب و کمک به او برای پرواز به دنیای مردگان بوده است.

۳- هنوز به طور دقیق کسی نمی‌داند که مکانیزم بالابردن و چیدمان قطعات چند هزار کیلویی سنگ به چه شکل بوده و چگونه نیروی بازوی انسان توسط اهرم می‌توانسته سنگ‌هایی به آن عظمت را به سادگی مدیریت کند.

۴- برای مدیریت جهت صحیح ساخت و ساز (در آن زمان دوربین ترازیابی وجود نداشته است) از علم ستاره شناسی استفاده می‌شده است. اگر به چگونگی این امر علاقه دارید، نوشته‌های محقق انگلیسی، کیت اسپنس (Kate Spence) را مطالعه کنید.

۵- همان طور که پیش از این در متن اشاره شد، در ساخت این اهرام برده‌ای در کار نبوده است و نیروی کار به طور معمول به کار گرفته می‌شده است.

٦- هرم بزرگ می‌تواند زمان را به شما بگوید. این کار از طریق زاویه قرارگیری آفتاب روی اضلاع هرم و شکل‌گیری سایه مقدور می‌شود و از این طریق، مصریان باستان تاریخ تابستان و زمستان را تشخیص می‌دادند. این موضوع یکی از حقایق درباره اهرام مصر است که کمتر کسی از آن خبر دارد.

۷- تا هنوز، مصر شناسی و مطالعه روی چگونگی ساخت این اهرام یک شاخه پویا و داغ در علم باستان شناسی است.

دلیل اصلی این امر، مرموز بودن تاریخ مصر، عجیب بودن معماری اهرام و بسیاری دیگر است.

ترتیب کننده: یعقوبی

# څنګه کولای شو چې ښه مطالعه وکړو؟

په دې لیکنه کې (۱۰) مهمې لارې چارې په ګوته شوې، چې ستاسو له ښې مطالعې او زده کړې سره به مرسته وکړي.

۱. د مطالعې لپاره د یو ښه او مناسب محیط برابرول: د مطالعې په کوټه کې د تلویزیون، راډیو، د کورنۍ کوم غړي او نورو شتون ممکن د دې سبب شي، چې تاسو په دقیق ډول مطالعه ونه کړای شئ. د مطالعې لپاره یو میز او یا میز ته ورته پراخ شی وکاروئ، همدارنګه د مطالعې په ساحه کې د کافي روښنايي شتون ضروري دی، ترڅو وکولای شئ هغه څه چې غواړئ مطالعه کړئ په آسانۍ سره ووینئ.

۲. د خپلې زده کړې په ډول ځان پوه کړئ: که چیرې په دې ځان پوه کړئ، چې کوم ډول مطالعه کولو سره تاسو په لږ او آسانه توګه ډېر څه زده کولی شئ نو دا به ښه خبره وي. ځکه د هر انسان ځانګړتیاوې سره فرق لري، څوک په قرار قرار قدم وهلو سره ، څوک په ناسته، څوک په لیدلو، څوک په لوړ آواز ویلو او څوک په نورو لارو سره په آسانه او لږ وخت کې له مطالعې ډېر څه زده کولی شي. نو تاسو هم د خپلې مطالعې ډول او سټایل پیدا او په هماغه ډول خپلې مطالعې ته دوام ورکړئ.

۳. د مطالعې په وخت کې وقفه واخلئ: کله مو چې د مطالعې پر مهال طبیعت خراب شو، نو یوه لنډه وقفه واخلئ. او یا هم د ۳۰ دقیقو مطالعې کولو وروسته د لسو دقیقو لپاره دمه واخلئ. تر څو مو ذهن بېرته تازه او د نورې مطالعې لپاره چمتو او لیواله شي.

۴. خپله پوهه مو وآزمویئ: د کورنۍ له کوم غړي یا ملګري څخه غوښتنه وکړئ، چې په زده شویو معلوماتو کې درڅخه امتحان واخلي. او یا هم په خپله په یوه کتابچه کې د مطالعې پر مهال سوالونه ځان ته جوړ کړئ او وروسته له مطالعې لیکل شوو سوالونو ته ځوابونه ورکړئ. له دې سره به تاسو په دې پوه شئ، چې له لوستل شوو معلوماتو مو څومره معلومات زده کړي.

۵. **ځان پوه کړئ:** په دې ځان پوه کړئ، چې څه زده کول غواړئ او د کوم مقصد لپاره،

ځکه ددې کار په کولو مو له مطالعې سره نوره مینه او لیوالتیا هم پیدا کېږي.

**۶. په خپل ځان باندې یقیني او باوري اوسئ:** له هر څه مخکې باید په ځان باور ولرئ او تل داسې فکر وکړئ چې زه هر کار کولای شم او هیڅ کار ناممکن نه دی.

**۷. زیار وباسئ:** دا خو معلومه خبره ده چې بې زحمته راحت نشته، نو که غواړئ یو غښتلی او ښه زده کوونکی واوسئ، نو په خپلو زده کړو کې زحمت وباسئ. هیڅکله آرامه مه کینئ یعنې خوشې مه کینئ. تل هڅه وکړئ، چې نوي معلومات او مهارتونه زده کړئ.

**۸. یوه ښکاره موخه باید ولرئ:** خپل زیات وخت مو د هغو شیانو په مطالعې او تمرین کولو وکاروئ، چې مینه ورسره لرئ. په ژوند کې یوه ښکاره موخه وټاکئ او خپلې موخې هدف ته د ښې او ګټورې مطالعې له لارې ځان ورسوئ.

**۹. متوجه او لیواله اوسئ:** کله مو چې مطالعه کوله نو په پوره تمرکز او لېوالتیا سره یې وکړئ، په داسې ځای کې چې هلته تلویزیون، راډیو او یا کوم بل مزاحمت شتون ولري مطالعه مه کوئ. ځکه چې بیا مو فکر له مطالعې اوړي او په موضوع به مو سر نه خلاصیږي نو ممکن له مطالعې مو زړه تور شي. د مطالعې په دوران کې له خوارک کولو څخه ډډه وکړئ ، په لنډ ډول باید ووایم چې د مطالعې په وخت کې یواځې مطالعه وکړئ.

**۱۰. د مطالعې لپاره یو مهال ویش وټاکئ:** داسې یو مهال ویش جوړ کړئ، چې په کومه ورځ، په کوم وخت او د څومره وخت لپاره باید تاسو یو کتاب مطالعه کړئ. تر څو مو د هر مضمون او یا هم موضوع لپاره وخت معلوم کړی وي.

**ترتیب کوونکی : احسان الله مصلح**

# د غزني ولایت پیژندنه

د اسلامي نړۍ د کلتوري پلازمېنې په توګه د غزني نومول دافغانستان لپاره يو تاريخي وياړ دی.

غزنی دافغانستان له لرغونو ولایتونو څخه دی، چې د جغرافيايي موقعيت له پلوه د پايتخت (پلازمېنې) کابل په جنوب غرب کې د کابل-قندهار پر لویه لارپروت دی. چې د ۳۴۵۵ کلیو له یوځایوالي څخه منځته راغلی دی، چې د شمال ختیځ له لوري له لوګر ولایت، د شمال له لوري له د وردګ ولایت د شمال لوېدیځ له بامیان ولایت، د لوېدیځ له لوري له ارزګان ولایت، له سویل لوېدیځ له لوري له زابل ولایت، له سويل ختیځ له لوري له پکتیکا ولایت او له ختیځ له لوري له پکتیا ولایت سره پوله لري.

دغزنی په ولایت کی دری توکمه خلک په ترتیب (پښتانه، تاجک، هزاره) ژوند کوي، د دې ولایت پراخوالی ۲۲۹۱۵ کیلو متره مربع شوول شوی دی، د وګړو شمېر یې د ۲۰۱۳م کال کې ۱۳۶۸۸۰۰ تنه اټکل شوی دی.

په غزني ولایت کې د تېلو، اوسپنې او مالګې زیاتې زېرمې هم شته، چې د امکاناتو او د فني کدرونو د نه شتون له کبله یې د راایستنې کار ولاړ دی، غزني د غزنویانو په دوره کې د مدنیت داسې مرکز وو، چې هغه مدنیت تر خوارزمه رسیده، ماورالنهر او ایران باندې یې تسلط درلود، دا داسې یو مدنیت وو، چې دې سیمو د ټولو مدنیتونو د هندوستان تر سومناته او قنوجه پورې د دې له اشعو او وړانګو څخه فیض مونده او مخصوصاً د اسلام دین وروسته له محمد بن قاسم ثقفي څخه، چې د لومړي قرن په وروستی لسیزه کې په سند کې اسلام راوست، تر هغه وروسته نو بیا د اسلام د دین او د اسلامي مدنیت د خپرولو ډیر مهم اتل او قهرمان سلطان محمود غزنوي وو. د غزني مدنیت هغه وخت په دې ټولو اطرافو او اکنافو کې د غزنویانو د سلطنت مخصوصاً د سلطان محمود غزنوي په

دوره کې خپل اثرات درلوده. داسې باور دی، چې د غزني ښار بنسټ به تر میلاد مخکې ایښودل شوی وي.
په اوومه پیړۍ کې عرب ځواکونه غزني ته راغلي او د دې سیمې خلکو ته یې اسلام ورمعرفي کړی دی، غزنی په نهمه پیړۍ کې خپلو ښو ورځو او شپو اوج ته رسیدلی وو دا هغه وخت دی، چې د سبکتګین کورنۍ د غزنویانو د حکومت سلسله پیل کړه او هغه مهال د فارس او هند او د منځنۍ آسیا د زیاتو برخو کنټرول د همدې ښار د حکمرانانو په لاس کې وو د سلطان محمود غزنوي له خوا پر هند مکررې حملې د هند او افغانستان د تاریخ یوه برخه ده؛ چې په اړه یې بېلا بېل نظریات موجود دي؛ خو په دې کې هم شک نشته، چې د غزني دربار د دري ژبې د کلاسیکو ادبیاتو د سترو لیکوالانو او ادیبانو لکه فردوسي، سنایي او فرخي ځای وو، خو د غزني ښار ډیرې بدې ورځې هم لیدلي دي چې؛ د غوریانو د سر لښکر سلطان علاوالدین غوري حمله او د غزني ښار سوځیدل یې یوه ستره تاریخي بېلګه بلل کېږي.
سلطان علاوالدین غوري د دولسمې پیړۍ په پیل کې د غزني ښار ته اور واچاوه او د دیارلسمې پیړۍ په پیل کې د چنګېز ځواکونو دا ښار له سره ویجاړ کړ د منځنۍ پیړۍ ډېر پیژندل شوی مراکشی سیاح او سفر نامه لیکونکی «ابن بطوطه» غزني ته د خپل سفر په اړه لیکي، دا د پیژندل شوي جنګیالي سلطان محمود ابن سبکتګین ښار دی. له دې ځایه پر هند په وار وار حملې رهبري شوې دي، ښارونه نیول شوي دي، اوس د سلطان محمود قبر هم دلته دی، د مسافرو او ملنګانو د راغونډېدو ځای دی.
د ښار تر ټولو لویه برخه <u>دنګه</u> ده او د پخواني عظمت څخه یې یوازې افسانې پاتې دي، د غزني ښار بیا د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې ګوښې ته پاتې شوی؛ خو د سیاسی چارو څیړونکی وایي؛ د اسلامي فرهنګ د مرکز په نوم د دې ولایت معرفي کېدل د دې ښار پر تاریخي ارزښت ټینګار کوي، غزني زر کاله مخکې عروس البلاد یا د ښارونو ناوې بلل شوې وو او ښايي هغې پرتمینې دورې ته بېرته ستنیدل ممکن نه وي، خو لږترلږه په دې ښار کې شته تاریخي آثارو ته پاملرنه به دا ولایت د نړیوالو سیلانیانو لپاره په مهم مرکز بدل کړي. په ۲۰۰۷ م کال، د اسلامي هېوادونو د اطلاعاتو او کلتور وزیرانو په خپله یوه ناسته کې چې د لیبیا په مرکز طرابلس کې جوړه شوې وه، غزني په ۲۰۱۳ م کې د اسلامي نړۍ د تمدن د مرکز په توګه اعلان کړ. کېدای شي غزني ولایت ته د اسلامي ثقافت او تمدن دپلازمینې په نوم ورکولو سره، دغزني اصلي او تاریخي څېره رابرسیره شي.
بالاخره غزني، د اسلامي نړۍ د کلتوري پلازمینې په توګه د نومونې جشن د۲۰۱۳ م کال کې ولمانځل شو.

**ترتیب کوونکی: خان محمد احمدزی**

# آیا می دانستید؟

۱ – تـوت زمینـی بـه رنـگ هـای سـفید یـا زرد نیـز یافـت مـی شـود و برخـی از آن هـا حتـی مـی تواننـد طعـم آنانـاس را داشـته باشـند.

۲ - تنهـا ماهیچـه ی بـدن انسـان کـه هرگـز خسـته نمـی شـود قلـب اسـت.

۳ - روی یـک تـوپ گلـف ۳٦٦ فرورفتگـی وجـود دارد. فرورفتگـی هـا بـه تـوپ کمـک مـی کننـد تـا مسـافت دورتـری را طـی کنـد.

٤ – گوگـرد پـس از لایـتر اختـراع شـد. اولیـن گوگـرد در سـال ۱۸۲٦ سـاخته شـد امـا اولیـن لایـتر در سـال ۱۸۲۳ سـاخته شـد.

۵ - مصریـان باسـتان روی بالـش هـای سـنگی مـی خوابیدنـد.

٦ - کچیـپ زمانـی بـه عنـوان دوا اسـتفاده مـی شـد. اعتقـاد بـر ایـن بـود کـه ایـن دوا درمانـی بـرای سـوء هاضمـه اسـت.

۷ - یـک دلفیـن گلابـی نـادر در لوئیزیانـا زندگـی مـی کنـد. ایـن دلفیـن کمیـاب بـرای اولیـن بـار در سـال ۲۰۰۷ کشـف شـد و گفتـه مـی شـود رنـگ گلابـی آن ناشـی از یـک جهـش ژنتیکـی نـادر اسـت.

۸- خـوردن پیـاز زیـاد باعـث خـواب آلودگـی مـی شـود. پیـاز سرشـار از مـواد معدنـی مفیـدی اسـت کـه بـرای بـدن انسـان مفیـد هسـتند بـا ایـن حـال یـک آرام بخـش طبیعـی اسـت زیـرا آن هـا غنـی از تریپتوفـان هسـتند.

۹- نهنـگ آبـی بزرگتریـن حیـوان شـناخته شـده در سـیاره زمیـن اسـت.

۱۰- انگشـت کوچـک ۵۰ درصـد از قـدرت دسـت مـا را تشـکیل مـی دهـد.

۱۱- رتیـل (یـک نـوع عنکبـوت) مـی توانـد دو سـال بـدون غـذا زنـده بمانـد.

۱۲- بـا گریـه کـردن مـی توانیـد احسـاس شـادی بیشـتری داشـته باشـید. تحقیقـات نشـان داده اسـت کـه گریـه باعـث تولیـد اندورفیـن مـی شـود کـه بـه عنـوان یـک مسـکن طبیعـی عمـل مـی کنـد. هـم چنیـن هورمـون هـای احسـاس خـوب ماننـد اکسـی توسـین را ترشـح مـی کنـد.

۱۳ - نگـه داشـتن ماهـی سـرخ در اتـاق تاریـک باعـث رنـگ پریدگـی آن مـی شـود.

۱٤ - در مجمـوع ۳۲ ماهیچـه در گـوش یـک پشـک یافـت مـی شـود.

۱۵ - پروانـه هـا معـده ندارنـد.

۱٦ - زرافـه هـا تارهـای صوتـی ندارنـد.

۱۷ - گونـه ای از بقـه وجـود دارد کـه طعمـه خـود را از طریـق چشـمان خـود مـی بلعـد.

۱۸ - جمجمـه انسـان از ۲۹ اسـتخوان مختلـف تشـکیل شـده اسـت.

۱۹ - انگـور در داخـل داش برقـی منفجـر مـی شـود و بـرای اینکـه منفجـر نشـود بایـد انگـور را تقریبـاً از وسـط نصـف کنیـد.

۲۰ - قرنیـه چشـم، خـون دریافـت نمـی کنـد. ایـن تنهـا قسـمتی از بـدن انسـان اسـت کـه رگ خونـی نـدارد. قرنیـه آکسـیجن خـود را مسـتقیما از هـوا دریافـت مـی کنـد.

# د ښه ذهن خاوندان دغه (۷) ځانګړنې لري

**ژباړه: حضرت عثمان نوري**

هغه خلک چې بېلابېلو ستونزو ته تر هر څه ژر حل لاره راوباسي او ذهني وده يې تر نورو چټکه وي، دوی بدايه ګامونه پورته کوي او په بريالیتوب سره شته ستونزې په ډېر کم وخت کې حل کوي.

ارواپوهان وايي: که تاسو لاندې ځانګړتیاوې ولرئ، تاسو د يوې پياوړې حافظې شخصيت بلل کېږئ.

**لومړی: خپل احساس او منطق توازن کړئ**

که تاسې په بشپړ ډول د موضوع په اړه پوه شئ، نو تاسو په ذهني توګه قوي ياست. همدا راز د خپلو منفي او مثبتو احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ بيا د منطق سره د وضعيت او سختو پېښو اندازه وکړئ، د احساساتو او مهارت منطق د صبر او پوهې له لارې ښه کېدای شي.

**دوهم: د بدلونونو سره سم عمل وکړئ**

بدلون او نوښت آسان کار نه دی او هر څوک يې نشي کولای، خو که تاسو په ژوند کې د نوو حالاتو سره مخ کېږئ او په مثبتو لارو خپل فکر بوختوئ او انرژي مو په سمه لاره مصرف کوئ، دا ستاسو د ذهن د ورتيا ثبوت دی. ستاسو قوي ذهن به تاسو ته توان درکړي چې تاسو خپل پام په بدو اړخونو متمرکز نکړئ.

**دريم: ژوند مو ارزښتمن وبولئ**

د قوي ذهن خاوندان کولای شي چې د خپلو اصولو او عقايدو سره په سمون کې ژوند وکړي، دوی پوهيږي چې څنګه خپل لومړيتوبونه اداره کړي؛ څو ارزښتناکې پرېکړې وکړي. ژوند ښکلی دی او ارزښت ورکول يې نور هم اړين او ارزښتناک عمل دی. که خپل ژوند او راتلونکې روښانه غواړئ، نو ورځ په خوښۍ پيل او په برياوو يې پای ته ورسوئ.

**څلورم: ماتې ته ښه راغلاست ووايئ**

بريا او ماتې سره د ورور او خور مثال لري، که ګټه غواړئ نو تاوان به منې د بريا په لاره کې ناکامي شتون لري او بايد ويې زغمئ.

**پنځم: غوسه يا افسوس مه کوئ**

که تاسو د تېرو بدبختيو په اړه فکر کوئ، دا بيا ډېر ستونزمن کار دی چې يو ګام مخکې لاړ شئ، ځکه که تاسې تېر هېر نه کړئ او له تېرو تېروتنو مو زده کړه ونه کړئ، مخ په وړاندې نه شئ تللی، د همدې لپاره په خپلو ماتو او تېروتنو غوسه او افسوس مه کوئ او د دې پرځای خپل کار ته لا ښه پام وکړئ.

**شپږم: پرېکړه کوونکې اوسئ**

آيا تاسو فکر کوئ چې ستاسو ذهن ستاسې بريا له شک څخه ژغوري؟ دا يو حقيقت دی، که تاسې خپله حافظه په مطالعه بوخته وساتئ، نو ځان مو له ماتې ژغورلی شئ. ډېری خلک چې په نړۍ کې يې ريکارډ پرېښی دی او د نړۍ نامتو پوهان شمېرل کيږي، لامل يې دا دی چې دوی خپل ذهني حالت ته ښه پام کړی دی او د يوې قاطع پرېکړې خاوندان دي. که تاسو په ژوند کې يو څه کوئ؛ دا يې ښه وخت دی؛ ځکه ستاسو ذهن په بيا بيا فعاليت تمرکز کوي چې پای به يې د برياوو زيری ولري.

**اووم: خوښي مو په ګډه ولمانځئ**

د پياوړې حافظې خاوندان خپلې خوښۍ ته تر هر څه لومړيتوب ورکوي، لامل يې دا دی چې دوی هېڅکله نورو (بدبينه خلکو) ته اجازه نه ورکوي چې د دوی خوښي محدوده کړي. ارواپوهان سپارښتنه کوي چې خوښي ستاسو ذهن پراخوي او ذهني فشار مو ورسره له منځه ځي، دوی زياتوي چې په ذهني توګه ستاسو استعدادونه ستاسو برياليتوب څومره چې امکان لري، هومره يې ژر ثابتوي.

ژباړه: ډاکټر غنچه گل ارمان

# له مور او پلار سره داسې چلن وکړئ

مسلمان وروره او خورې! که غواړې په خپل ژوند کې نیکمرغه او په خپلو کارونو کې بریالی اوسې، په دُنیا او اخرت کې سپین مخی واوسې او د قیامت په ورځ د الله جل جلاله له عذاب څخه وژغورل شې، دا لاندې لارښوونې په پام کې ونیسه:

۱- د ګناه له امر پرته د مور او پلار هره خبره ومنه.

۲- له هغوی سره له مهربانۍ او ادب ډکې خبرې وکړه.

۳- کله چې در باندې راشي، ور ته ودرېږه.

۴- سهار چې له کوره وځې، او ماښام چې بېرته راځې لاسونه یې ښکل کړه.

۵- د هغوی د حیثیت، شرف او مال ساتنه وکړه.

۶- تل یې عزت وکړه او څه چې غواړي ور یې کړه.

۷- په کارونو کې دې ور سره سلا مشوره وکړه.

۸- هر وخت دُعا ور ته کوه او له الله جل جلاله بخښنه ور ته غواړه.

۹- که میلمه ور سره وي له دروازې سره نږدې کېنه او د هغوی سترګو ته ګوره ښایي هغوی در ته کوم پټ امر وکړي.

۱۰- هغه کار چې دوی پرې خوښېږي، پرته له دې چې دوی یې در ته ووایي، سر ته ورسوه.

۱۱- د هغوی په وړاندې خپل غږ مه پورته کوه.

۱۲- د خبرو په منځ کې یې مه ورلوېږه.

۱۳- نانډری مه ورسره وهه. که پوره باور لرې چې ستا رأیه سمه ده، په خوږه ژبه قناعت ورکړه، خو که په خپله رأیه یې ټینګار وکړ، کینه مه ور سره کوه که څه هم چې هغوی په ناسمه وي.

۱۴- دروغ مه ورپورې تړه او هغه څه یې مه اخله چې اجازه یې نه وي در ته کړې.

۱۵- سفر ته د هغوی له اجازې پرته مه وځه.

۱۶- که خدای مه کړه په سیګرټ څکولو اخته یې، که هغوی یې د څکولو اجازه هم در کړې، د هغوی په وړاندې یې مه څکوه.

۱۷- خوب یې مه کډوډوه.

۱۸- خپلې ښځې او بچیانو ته پر هغوی برتري مه ورکوه.

۱۹- په داسې کار یې مه ملامتوه چې ستا نه خوښېږي.

۲۰- د هغوی په وړاندې بې ځایه خندا مه کوه.

۲۱- د هغوی له مخې ډوډۍ مه را اخله.

۲۲- د ډوډۍ خوراک پر وخت یې مخې ته لاس مه ور تیروه.

۲۳- که هغوی ناست وي، له ویده کېدو څخه ډډه وکړه.

۲۴- د هغوی مخکې پښې مه غځوه.

۲۵- که په لارې له پلار سره روان یې، ځنګ په ځنګ مه ور سره ځه بلکې لږ شا ته ترې ځه.

۲۶- له هغوی څخه په لوړ ځای کې مه کېنه.

۲۷- چې غږ در ته وکړي، په چټک ډول ځواب ورکړه.

۲۸- له داسې چا سره ملګرتیا مه کوه چې له هغوی سره بد کوي.

# داستان آموزنده

نزدیک غروب بود، مردی باتمام هیجانی که داشت، وارد منزل شد و خطاب به همسرش گفت: امشب مهمان عزیزی دارم که سالهاست او را ندیده‌ام، شخص نیک، تحصیل کرده و باکمال است، سعی کن چیزی کم نباشد؛ بهترین دسترخوان، خوشمزه ترین غذاها را آماده کنی و راستی یادت نرود قبل از داخل شدن به خانه، پدر پیرم را به اتاقی که داخل حویلی است ببری. مبادا دوستم او را ببیند و خجالت شویم.

همسرش فرمود: چشم اطاعت می شود. مرد به طرف بازار روان شد تا برای شب میوه، شیرینی و... خرید کند.

پدر که پشت دروازه اتاق صدای پسر را شنیده بود بی آنکه چیزی بگوید، دل شکسته و گریان دور از چشم عروس، از خانه بیرون شد؛ دوست نداشت آن شب خانه بماند مبادا وقتی که مهمان پسرش وارد حویلی شود و من باعث شرمندگی پسرم شوم بهتر همین است که بیرون بروم، هر وقت مهمان پسرم رفت باز دوباره خانه باز می گردم.

هوا نسبتاً تاریک شده بود، وی خانه را ترک و راهی نزدیک ترین پارک محل سکونت شد. شبی تاریک و سردی بود هم چنانکه عصا زنان و لرزان قصد عبور از جوی کنار سرک را داشت در حالی که ناتوان از عبور بود، ناگهان جوان رعنا و شیک پوشی را مقابل خودش دید.

جوان سلام کرد و مرد نیز به او سلام کرد و جوان گفت: کجا روان هستی در این وقت شب با این حال؟ اجازه بدهید کمک تان کنم. پیرمرد آهی کشید و گفت: ممنون پسرم الله جل جلاله خیرت بدهد، می‌خواهم از این جوی بگذرم و از پیاده رو به پارک وارد شوم.

جوان: اگر اجازه دهید من شما را تا پارک همراهی کنم

پیرمرد: نه پسرم شما به کار خود رسیدگی کنید تا دیر تان نشود.

جوان: نه پدر، من امشب از شهری دیگری برای دیدن دوستی آمده‌ام که سال هاست او را ندیده‌ام.

پیرمرد: چه جالب پسر من هم امشب یکی از دوستان سابقش را دعوت کرده است.

جوان: پس چرا شما از خانه بیرون شده اید و قصد پارک دارین؟

پیرمرد آهی کشید و در حالی که قطرات اشک به صورت اش می غلطید گفت: فرزندم، از پسرم شنیدم که به عروسم می گفت: یادت باشد قبل از ورود دوستم به منزل، پدر پیرم را به اتاق داخل حویلی ببری تا دوستم نبیند و من با بودن پدر پیرم خجالت می کشم؛ برای همین چون پسرم را خیلی دوست دارم نمی خواهم نزد دوستش که بعد از سال‌ها به دیدنش می آید و انسان تحصیل کرده و با سویه و کمال است، با این قد خمیده و صورت چروکیده و دست و پای لرزان شرم سارش کنم و سویه‌اش را پایین بیارم.

جوان با شنیدن حرف‌های پیرمرد دلش به درد آمد و اشک از چشمانش فرو ریخت، بغض سنگینی گلویش را فشرد، مرد جوان، پیرمرد را در آغوش گرفت و پیشانی اش را بوسید و برایش گفت:

پدر، من سال هاست از نعمت پدر محرومم، از تو خواهشی دارم، دوست دارم جای پدرم امشب شما را مهمان غذایی به نزدیک ترین رستورانت این اطراف کنم اگر قبول کنید برایم افتخاری بزرگی است.

پیرمرد نگاهی از سرحسرت به جوان کرد، انگار حسرت داشتن همچنین پسری تمام وجودش را گرفته بود.

گفت: نه پسرم شما به دیدن دوستات بروید حتماً منتظر تان است.

جوان گفت: نه پدر دوست دارم امشب با شما باشم به دوستم زنگ می‌زنم منتظر نباشد.

پیرمرد موافقت نمود و هر دو برای صرف شام به رستورانتی رفتند.

جوان نخست دو نوشیدنی گرم سفارش داد، مشغول نوشیدن بودند که موبایل اش زنگ خورد.

آیا می توانید حدس بزنید که کی برایش زنگ زده است؟ بلی دوستش؛ اما می دانید دوست اش کی بود؟ (پسر پیرمرد) بود.

تا تیلفون را جواب داد، دوست اش گفت منتظر است تا خانه بیاید و نان را باهم بخورند.

جوان گفت: با پدرم هستم... امشب در خدمت پدرم می‌باشم، فردا شب مزاحم شما می‌شوم.

پسری پیر مرد از این حرف دوستش تعجب کرد چون قرار بود دوستش را تنها ملاقات کند؛ اما پدر او در این شهر چی می کند؟

پسر به دوستش اسرار زیادی کرد و گفت پس با پدرتان به منزل ما تشریف بیاروید.

جوان قبول نکرد و بلکه از او نیز خواست تا با همسرش برای ملاقات و صرف شام به آدرسی بیاید که آن جوان آنجا بود.

آدرس را داد و منتظر ماندند تا دوست وهمسرش برای شام به او و پیرمرد ملحق شود، غافل از اینکه پیر مرد پدر همان دوستش است.

مدتی نگذشت که مرد و همسرش خندان و بالباسی شیک و وضعی مرتب وارد رستورانت شدند.

پشت پیرمرد به آنها بود، جوان با دیدن دوست و همسرش که درحال نزدیک شدن به میز بودند بلند شد و به سمت آنها حرکت کرد تا به نشستن به دور میز دعوت شان کند؛ همین که پسر و عروس پیر مرد قصد نشستن پای میز را داشتند پیر مرد روی برگرداند، پسر و عروس با مشاهده پیر مرد شوکه شدند، شرم و خجالت از سرخی رخسارشان پیدا بود...

پیر مرد که وضعیت عروس و پسرش را فهمید بدون آنکه خودش را ببازد همراه شان به عنوان کسی که برای اولین بار ملاقات کرده، سلام علیک کرد طوری که رفیقی پسرش بویی از ماجرا نبرد، آنها نیز به ناچار پای میز نشستند.

جوان پیرمرد را معرفی و قضیه را طوری که پیرمرد شرح داده بود به دوست و همسرش شرح داد و برای پسر پیرمرد تأسف خورد.

آنها در هنگامی که مصروف غذا خوردن بودند از کار شان بسیار پشیمان بودند و از خجالت مزه ای غذا را هم نفهمیدند.

**نتیجه:** در زندگی باید قدر پدر و مادر خویش را بدانیم و نباید به خاطر ضعیفی و پیری آن ها، با آنها برخورد بد داشته باشیم، هم چنان دین مبین اسلام نیز ما را به رفتار نیک و شایسته با پدر و مادر مکلف ساخته است؛ پس باید قدر آن ها را بدانیم؛ چون پدر و مادر نایاب ترین چیز های دنیا است.

ژباړه: عبدالقدير پوپل

# د نفس سره يو څو خبري

امام ابن جوزی رحمه الله فرمايلي: کله چي انسان د سهارله لمانځه څخه فارغ شي بايد خپل زړه آرم او خپل نفس ته ووايي: اې نفسه زما ټوله سرمايه يوازي دا ژوند دی. که دا سرمايه فنا شي نو د ټول تجارت او ګټي څخه به محروم شم او دا يوه نوې ورځ ده چي پکښې الله پاک مهلت راکړی دی او د مرګ په ځنډولو يې پر ما احسان کړي دی. که ئی د ژوند نعمت را څخه اخستی وای نو ما به د مهلت ارمان کولای چي نيک عمل مي پکښې کړی وای نو ای نفسه هم دغه فکر وکړه چي ته مړ وې او مهلت يې درکړی دا ورځ مه ضايع کوه.

فکر وکړه چې په ورځ او شپه کي يوه المارۍ در کوي چي ۲۴ خانې لري چې د قيامت په ورځ به خلاصيږي او الله پاک به د هر ساعت ګټلي نيکي ويني نو که د چا د المارۍ خانې د نيکی نه ډکي وي خوشبخت او که نه وې بدقسمته به وي.

يعني که د نيکی پر ځای د ګناه څخه ډکې وي نو د نور پر ځای به تياره وي او هغه ساعت چي انسان پکښې د الله جل جلاله نافرماني کړې وي د هغه عذاب ، ذلت او رسوائی سبب به شي. داسې خانې به هم پدې المارۍ کې وي چې تشه به وي هيڅ به هم پکښې نه وي . هغه خانې د هغو ساعتونو خانې دي چې په هغه کې ئې خوب کړی وي. د دې خانې په را خلاصيدلو به هر څوک افسوس کوي غمګينه به وي چې قادر وو تر څو د موقع څخه ګټه واخلي خو ضايع کړی ئې ده.

هر انسان بايد نفس ته ووائي چې ای نفسه! کوښښ وکړه چي د نن المارۍ د ښکو اعمالو څخه ډکه کړې يوه خانه هم خالي پرې نږدي . داسې نه چې د عليين درجات ضايع شي او نور يې هغه درجې واخلي.

شداد بن اوس رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي؛ چې عقلمند هغه کس دی چي خپل نفس د ځان تابع کړي او داسې اعمال وکړي چي د مرګ وروسته يې په درد وخوري . عاجز هغه دی چې د خپل نفس په غوښتنو پسې وګرځي او الله پاک څخه د ښه اميد هم ولري.

حضرت عمر رضي الله تعالی عنه فرمايلي دي: د قيامت د حساب مخکي د خپل نفس سره حساب وکړئ او د عمل د تول څخه مخکې تول کړه او د الله جل جلاله مخ ته د حاضريدوو تياری ونيسه.

په سورت الحاقه کې الله تعالی فرمايي:

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ. (الحاقة: ١٨)

په دغه ورځ کې به تاسې حاضرولاندي کړل شئ ( الله ته سره د حساب ) پټه به نه پاتې کيږي له ( اعمالو د ) تاسې هيڅ يوه پټه خبره.
